# د ټاکنيزو مبارزو کړنلار

دغه کړنلار د ټاکنو دقانون په ۶۶ مادې کې د ورکړل شويو واکونو په پام کې نيولو سره د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د سياسي گوندونو او کانديدانو په ټاکنيزو مبارزو پورې د اړوندو چارو د تنظيم په موخه تصويب شوی ده.

## اصطلاحگاني

**لومړۍ ماده:**

1. کميسيون : د ټاکنو خپلواک کميسيون چې د افغانستان د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پراسا س جوړ شوی دی .
2. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون : دټاکنيزو شکايتونو کميسيون د ټا کنودقانون د (۶۱)مادې پر بنسټ جوړشوی دی.
3. د رسنيو کميسيون : د ر سنيو کميسيون د ټاکنو د قانون د (۶۰ ) مادې پر بنسټ جوړشوی دی.
4. ټاکنې : دټاکنو ټوليزې پروسې( د رايې ورکوونکو نوم ليکنه ، د کانديدانو نوماندې ، ټاکنيزې مبارزې ، را يه ورکونه ، د رايو شميرنه او د ټاکنو د پايلو اعلان ) په کې شامل .
5. سياسي گوند: د عدليې په وزارت کې راجستر شوی سياسي گوند.
6. ټاکنيزې مبارزې : د سياسي تگلارې د رواجولو او د رايو ورکوونکو د باور او ملاتړ د جلبولو په موخه د سياسي گوندونو او کانديدانوهاند او هڅې.
7. څارونکې : هغه اشخا ص چې دسياسي گونداو يا کانديد په استا زيتوب د باورليک لرونکی وي ، په ټاکنو کې دڅارنې په موخه گډون کوي.

## عملي ساحه

**دويمه ماده:**

د غه کړنلارپه لاندينيو ټاکنو کې د سياسي گوندونو او کانديدانو په ټاکنيزو مبارزو پورې اړوندې چارې تنظيموي :

۱- د جمهوري رياست ټاکنې
۲- د ولسي جرگې ټاکنې
۳- دولايتي شورگانو ټاکنې
۴- د ولسوالۍ شوراګانو ټاکنې
۵ ـ د کلي دشوراګانو ټاکنې
۶- دښا روالانوټاکنې
۷ ـ دښاروالۍ د غونډ وټاکنې

## د ټاکنيزو مبارزو مها ل

**دريمه ماده:**

کمیسیون د ټاکنو د قانون د(۴۶ ) مادې په پام کې نیولو سره له ټاکنو څخه لږترلږه (۱۲۰) یو سلو شل ورځې مخکې د ټاکنیزو مبارزو د پیل او پاې موده ټاکي او ټول خلک پرې خبروي .

**په ټاکنیزو مبارزو پورې اړوند شرایط**

**څلورمه ماده :**

1. سیاسي ګوندونه او کاندیدان کولاې شي د کمیسیون له خوا په ټاکل شوې مها ل کې ، هغه قانوني شرایط چې وړاندوینه یې شوې ده د اړوند چلند اصول په پام کې نیولوسره ،دغوندو جوړول ددله ییزو رسنیو له لارې تبلیغ کول ( غږیزو چاپي او تصویري ) او له نورو قانوني لارو په ټاکنیزو مبارزو پورې اړوند فعالیتونه پر مخ یوسي .
2. سیاسي ګوندونه ، کاندیدان او پلویان یې نه شي کولاې د سیاسي ګوندونو یا کاندیدانو په ټاکنیزو مبارزو کې منفي لاسوهنه وکړي او دهغو د فعالیتونو خنډ شي .
3. سیاسي ګوندونه او کاندیدان باید په خپلو سیاسي مبارزو کې د ملي دفاع ، کورنیو چارو د وزارتونو او ملي امنیت ریاست په ګډون د وسله وال پو ځ منسوبین، په هغه صورت کې چې په یونیفورم ملبس او یا د رسمي دندې د ترسره کولو په حال کې وي ، د ګډون زمینه برابره نه کړي .
4. سیاسي ګوندونه اوکاندیدان نه شي کولاى چې په ټاکنیزو مبارزوپورې اړوندو فعالیتونو کې بهرنیو اتباعو ته بلنه ورکړي او په دغه شان فعالیتونو کې هغوې ته د ګډون زمینه برابره کړي.
5. په ټاکنیزو مبارزو کې د افرادو ګډون یا نه ګډون لازمي نه دى .

**د ټاکنیزومبارزو حدود**

**پنځمه ماده:**

1. سیاسي ګوندونه، کاندیدان او پلویان یې په ټاکنیزو مبارزو پورې اړوند فعالیتونه د قانون، د کمیسیون د تصویب شویو کړنلارو او اړوندو چلند اصولوپه پام کې نیولوسره تنظیموي.
2. د ټاکنو له قانون، دکمېسیون پواسطه تصویب شوې کړنلارې ا وله اړوند چلند اصول څخه هر ډول سر غړونه کولاې شي چې د کمیسیون ،د رسنیو د کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون له خوا وڅیړل شي اویا موضوع د عدلي او قضایی تعقیب په موخه اړوندو ارګانونو ته راجع شي.

**د ټاکنیزو مبارزو په بهیرکې له سرچینو څخه استفاده**

**شپږمه ماده:**

1. د عامه پوهاوي په موخه د ټاکنیزو مبارزو په بهیر کې د ولتي رسنۍ ( ټلویزیون ، راډیو او چاپي رسنۍ ) د کاندیدانو تګلارې . نظریې، موخې او کړنلارې په عادلانه او بیطرفه توګه خپروي. دولتي ډله ییزې رسنۍ د کاندیدانو نظریې ، موخې او تګلارې د کمسیون له خوا د ټاکل شوي مهالو یش سره سم په منصفانه او بیطرفه توګه نشراو خپروي.
2. هیڅ کاندید نه شي کولاى چې د ټاکنیزو مبارزو په بهیرکې له عامه ملکیت او شتمنیو څخه استفاده وکړي، خوپه هغه صورت کې یې کولاى شي چې واکمن مقام ټولو کاندیدانو ته مساویانه آسانتیاوې برابرې کړي.

## د ټاکنیزو مبارزو په چارو کې د دولتي ادارو د مسؤولینونه لاسوهنه

اوومه ماده:

دټاکنیزو مبارزو په بهیرکې ددولتي ادارو مسؤولین وروستي ټکي باید په غوڅه توګه رعایت کړي:

۱- د دندې د ترسره کولو پر وخت د یوه ځا نګړي سیاسي ګوند یا کاندید په ګټه یا زیان مستقیمه یا غیر مستقیمه نه لاسوهنه .

۲- په غونډو او سوله ییزو ناستو او لاریونونو کې نه لاسوهنه
۳- له یوه کاندید څخه د ملاتړ او څرګندې نیوکې له ترجیحي چلند څخه ډډه کول.
۴- د یوه کاندید په ګټه اویا زیان له دولتي امکاناتو څخه ګټه نه اخیستل .
۵- د کاندیدانو د پوسترونو ، تبلیغاتي وسایلو او نورو موادو له راټولویا تخریب نه ډډه کول.
دپورته یا د شویو موضوعاتو تفصیل دپالیسی په سند کې ضمیمه شوی له دغې کړنلارې سره یې بیان شوی دی.

**د ټاکنیزې دورې پای**

**اتمه ماده:**

د ټاکنیزو مبارزو دوره د رأیې ګیرۍ د پیل له نیټې څخه (۴۸) ساعته مخکې پای ته رسیږي . سیاسي ګوندونه او پلویان یې نه شي کولاې د ټاکنیزو مبارزو د وخت له پای ته رسیدو وروسته خپلو مبارزو ته دوام ورکړي او یا ټاکنیزو مبارزو پورې اړوند مواد وویشي یا یې خپاره کړي.

**د ټاکنیزو مبارزو مواد**

**نهمه ماده**

۱- کاندیدان ، سیاسي ګوندونه اوپلویان یې دټاکنیرو مبارزو په بهیر کې دوروستیو موادو په رعا یتولو مکلف دي:
- کاندیدان نه شي کولای چې ټاکنیز و مبارزو ( رسا نیزو ، غونډو اوتبلیغاتو)ته له هغې نېټې څخه چې رسماً د کمېسیون له خوا اعلا ن شوې ده مخکې پیل وکړي .
- دټاکنیزومبارزو په بهیرکې نور دولتي ارګا نونه د کمېسیون دسمبول یا نښان څخه استفاده نه شي کولی .
- کاندیدان نه شي کولای د خپلو ټاکنیزو مبارزو مواد د واکمنو مقاماتو یا مالکینو له مخکینۍ اجازې پرته د دولتي یا شخصي ملکیتونو په مربوطاتو کې و ځړوي یا یې ننداري ته کېږدي.
- کاندیدان نه شي کولای چې دخپل تبلیغا تي موادو ( پوسترونواو عکسونو) په ځړولو کې له سریښ څخه استفاده وکړي .
- کا ندیدان کولای شي چې په ټاکنیزو مبارزو کې دښار دپا کۍ او ښایست ساتلو په موخه له بلبوردونو، بنرونو، پول ساینونواو ICD.TV څخه اعظمي ګټه واخلي .

- کاندیدان نه شي کولای هغه ټاکنیز مواد چې د قومي ، ډله ییزو ، مذهبي یا ژبنیو توپیرونو یا تاوتریخوالي لامل کیږي ننداري ته وړاندې اویا خپاره کړي .
۲- د کمیسیون موظف کارکوونکي اوښاروالي کولای شي د کمیسیون له لارښووني سره سم په ټاکنیزو مبارزو پورې اړوند تبلیغاتي مواد چې ددغې مادې له موادو سره په تضا د کې دي
له ځړول شویو ساحو څخه لرې کړي.
۳ - څارونکي نه شي کولای چې دڅارنې په بهیر کې درأیې ورکونې د محلاتو په داخل کې دټاکنیزو مبا رزودپه موخو له نښان ، سمبول اویا د کاندید له عکس څخه استفاده وکړي .
۴ - دکاندید له خوا دپورته موادو نه رعا یتول ، کمېسیون کا ندید دسرغړوونکي فرد په توګه د موضوع د څېړلو لپاره اړوندو مراجعو ته رسماً معرفي کوي .

**د ټاکنیزو مبارزو له بهیر څخه کتنه**

**لسمه ماده:**

۱- ټاکنیز کارکوونکي ، د کتوونکیو بنستونو او کورنیو او بهرنیو رسنیو استازې کولاې شي د ټاکنیزو مبارزو بهیر وګوري .

۲- کاندیدان او د سیاسي ګوندونو استازې او پلویان ترهغه وخت پورې چې د دغې مادې په لومړۍ فقرې کې د یادو شویو اشخاصو فعالیتونه د ټاکنیزو مبارزوله بهیر څخه په کتنې پورې محدود وي، نه شي کولاې د هغوی د فعالیتونو په اړه خنډ رامنځته کړي .

**نافذید ل**

**یوولسمه ماده:**

دغه کړنلار د تصویب له نیټې څخه وروسته نافذه او خپرېږي.